ډاکټر خسرو سنګروال ۲۰۱۱/۱۰/۱۴

# د منو سوداګر مړ شو

د چا چې مالوماتي ټکنالوژۍ سره سر او کار وي بې خبره به په پاتې نه وي چې روانه اونۍ د مالوماتي ټکنالوژۍ د ډګر اتل، نامتو برسیراند او د اپل د کمپیوټري نوښتونو د لړۍ آري نوښتګرستیفن جابز د یوې ناځواني ناروغۍ له کبله د ۵۶ کلونو په عمر ځوانیمرګ شو. جابز د تیرو اوو کلونو راهیسې د پانکراس غدې د یوې لړپیښې چنګاښي ناروغۍ نه رنځیده. نوموړی دوه میاشتې د مخه نور د خپلې ناروغۍ کړاوونو ته ټینګ نه شو، او له خپلې دندې، د اپل له مشرتابه نه، لاس په سر شو.

سټیفن جابز د کمپیوټري انجینرۍ د ډګر بیجوړې نوښتګر بلل کیږي. دی په خپل ډګر کې د ټولګټو او ټولخوښو برسیرونو له امله د نامتو برسیړاند تامس ادیسن سره سیال بلل کیږي. د جابز برسیرونو د نړۍ د ډېرو انسانانو په ځاني، ټولنیز او مسلکي ژوند باندې اغیزې شیندلې دي. زه د کمپیوټري انجینرۍ له نړۍ نه یو بیخبره انسان یم، او کیدای شي له هر بل چا لږ د سټیفن جابز د علمي او مسلکي زیاتونو په ارزښت پوه شم.

خو هغه څه چې ما ته د سټیفن جابز د ژوند تر ټولو په زړه پورې اړخ ښکاري، هغه د جابز د ژوند فلسفي اړخ دی. د جابز د ژوند هغه اړخ چې د ده دمسلکي برياوو تر سیوري لاندې پټ پاتې دی، او کټونکو ورته ډېر پام نه دی اړولی. که جابز ولوستل شي نوموړی کې د یو بریالي انسان ډېرې نښې پرتې دي. یو داسې انسان چې د خپل ژوند په تیرو اووه ویشت کلونو کې یې د ټکنالوژۍ په دښته کې هغه چټک مزل وکړ چې بل ساری یې نه دی لیدل شوی. زما په اند د ده د دې بریالیتوبونو راز د ده د شخصي ژوند او فلسفي په ژورو کې پروت دی.

څلور لسیزې د مخه ځوان سټیفن جابز د نړۍ د هر بل ځلمي په څیر د ژوند هغه کلونه تېرول چې سړی پکې تر هر بل وخت نه ډېر حساس، ځواکمن او انقلابي وي. جابز هم د نورو په څېر انقلابي سوچونو د نړۍ بدلولو ته وننګوه، او د نړۍ د ټولو ستونځو بوج یې په خپلو اوږو پروت وبله. خو جابز خپلو ډېرو همزولو سره په توپیر کې د افراط او تفریط ښکار نه شو. نه یې ټوپک ته لاس اوږد کړ او نه یې ژوند نه لاس لنډ کړ. د خپلې ځوانۍ جوش کې یې د هندوستان سفر وکړ، او بېرته پک بودايي راستون شو. له ختیځې فلسفي نه سخت اغیزمن شو، او د همدې فلسفي په رڼا کې یې خپل پاتې ژوند تېر کړ، او غټ تاوان یې ونه کړ.

جابز د ژوند په ځوانو شپو کې د ژوند او پنځون په اسانو خو بنسټیزو آرونو ځان پوه کړ. تر هر څه د مخه یې په ځان او د انسان په مورزېږدي وړتیاو باور وکاوه، او د مصنوعي او بازاري فکتورونو پر ځای یې د خپلو مغزو پر بنسټیزو وړتیاوو ډېر حساب وکړ، او داسې کولو کې یې ډېره ګټه وکړه. د بیلګې په توګه جابز هیڅکله د بازار د "فرمایش" سره سم تولیدات نه وړاندي کول، بلکې د خپلو نوښتونو نچوړ یې بازار ته وړاندې کاوه، او دې سره له خپلو سیالانو نه یو ګام وړاندې و.

جابز په خپل ورځني ژوند کې ډېر ساده ګرځیده. تل یې یو ډول او ساده کالي اغوستل. پیسو سره یې په ښکاره هیڅ مینه نه ښودله. پخپله یوه مرکه کې یې ویلي ول چې " پیسې ګټل به درنه د هدیرې تر ټولو شتمن سړی جوړ کړي، او دا ما ته ارزښت نه لري، هغه څه چې ما ته ارزښت لري هغه دا دي چې شپې چې د خوب ځای ته ځم دا ویلی شم چې نن مې یو ښه کار کړی دی. "

سټیفن جابز د مرګ او مړینې په هکله هم د په زړه پورې الواک څښتن و. نوموړي دا ګڼله چې مرګ د ژوند تر ټولو ارزښتمنه برسیړونه ده. ده به ویل چې مونږ پوهیږو چې مرګ راروان دی، او مونږ سره ډېر لږ وخت دی. نو ښه دا ده چې دا ژوند د څه بایللو او له لاسه ورکولو له وېرې نه پرته تېر کړو. جابز وایي چې د مرګ موجودیت دی په خپل کار کې د وېرې نه د ځان ساتلو ښه وسله بولي.

جابز به ژوند کې ډېرې تېروتنې او نیمګړتیاوې درلودې، خو په پای کې یو ډېر بریالی انسان و. که ځوانیمرګ شوی نه وای، کیدای شي د ده ایښنده برسیړونو نور بدلونونه هم راوستي وای. ډېر به د ده او د ده د کمپنۍ بریالیتوب به بیلابیلو تخنیکي او سوداګریزو اړخونو کې ګوري، خو زما لپاره د ده بریالیتوب کې د ژوند او د انسان د وړتیاوو په اړه د ده د فکر او فلسفي ونډه بنسټیزه او ډاګیزه ده.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ